**د ۱۴۴۴هـ.ق کال د نېکمرغه لوی اختر په مناسبت د مبارکۍ پيغام**

(ژباړه)

الله أكبر الله أكبر الله أكبر لا إله إلا الله، الله أكبر الله أكبر ولله الحمد

بسم الله الرحمن الرحيم والحمد لله رب العالمين والصلاة والسلا م على أفضل المرسلين سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

حزب التحرير اسلامي امت ته د نېکمرغه لوی اختر په مناسبت د زړه له تله مبارکي وايي او له الله سبحانه و تعالی څخه غواړي چې د اختر دغه ورځې له خوښۍ، ارامۍ او برکتونو ډکې کړي.

زه هم خوشاله يم چې د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د مشر په توګه د ځان او په دغې برخه کې د ټولو ورونو او خويندو له لوري د حزب التحرير امير، جليل القدر عالم شيخ عطا بن خليل ابو الرشته حفظه الله ته د نېکمرغه لوی اختر په مناسبت مبارکي ورکوم او له الله سبحانه و تعالی څخه غواړم چې د ده په لاسونو اسلامي امت ته فتح او ځواک ورکړي.

اسلامي امت لوی اختر د دې لپاره لمانځي چې دغه اختر د هغې قربانۍ او ښېنې د مفهوم مظهر دی چې اسلام د مسلمانانو په زړه کې کرلی. لوی اختر (عيد الاضحی) موږ ته هغه ښېنې او قربانۍ را يادوي چې پيغمبرانو او د هغوی پيروانو د اسلام د سرلوړي کولو لپاره کړې دي. له دغه فرصت څخه په ګټې اخيستنې، حزب التحرير اسلامي امت ته د دغو مهمو مفاهيمو معناوې وريادوي.

په وروستيو کلونو کې نوي ګواښونه را پيدا شوي چې د اسلامي امت پر هويت بريدونه کوي. ژوند ته د اسلام د بيا راتګ د هيلو له نوي کېدو سره؛ په ځانګړي ډول د عربي پسرلي انقلابونو کې، لاريون کوونکو شعارونه ورکول چې «زموږ تلپاتی رهبر؛ زموږ سرور محمد!». غرب خپلې هڅې پيل کړې چې دغه هيله د اسلامي امت د ځوانانو او پېغلو په زړونو کې مړاوې کړي. نو د استعمارګر غرب د اوسني بريد موخه دا ده چې د مسلمانانو روحيه کمزورې کړي او په دوی کې دغه نهيلي پيدا کړي چې هغه غوره اسلامي ژوند بيا نه راګرځي.

د استعمارګر او کافر غرب په اوسني بريد کې نوې خبره دا ده چې دوی اسلامي هويت په نښه کوي؛ دا کار مستقيماً او په ښکاره نه کوي، بلکې د ژوند په ټولو اړخونو کې د اسلامي مفاهيمو د سپکولو له لارې يې کوي.

غرب د مستقیم او ښکاره اقدام کولو پر ځای د مسلمانانو اراده ماتوي او په زړونو کې يې شک او نهيلي اچوي. دغه برید په بېلابېلو بڼو ښکاره شو. یوه ډېره مهمه بڼه يې له یهودي دولت سره د اړیکو عادي کولو پالیسۍ تحمیل دی؛ دا کار د پټ پیغام له لارې کوي او موخه يې د سپېڅلې ځمکې د ازادولو لپاره د جهاد مفهوم له منځه وړل دي. یوه بله بڼه يې د حرمینو په ځمکه (بلاد الحرمین) کې د فسق او فساد د مظاهرو د خپرولو لپاره چټکې او دوامدارې هڅې دي؛ ځکه چې آل سعود حکام لېواله دي چې صحنه له جدي او سختګیرانه اسلام څخه غیر اخلاقي سیکولریزم ته واړوي او مسلمانانو ته دا وښيي چې تاسو له خپلو مقدساتو دفاع نه شئ کولی. دغه راز د اسلامي امت پر وړاندې د کوچنیو قومي ایتلافونو راپارول چې له پېړیو راهیسې يې د دغه امت تر وزر لاندې ژوند وکړ؛ له دې لارې غواړي وښيي د مسلمانانو دغه احساس له منځه یوسي چې دوی د هېواد او د هېواد د اوسېدونکو مشران او د اقتدار او امنیت مسولین دي. دا ټول عملونه قصدي کېږي او موخه يې د سیکولر فضا او اصولو حاکمول دي، تر څو له دې لارې د اسلامي امت د ځوانانو په زړونو کې د خلافت د بیا راتګ په اړه شک او نهيلي پیدا کړي.

د عید الاضحی د مقام او له دې سره تړلي یوه اصلي مفهوم یعنې د الله لپاره قربانۍ او دغه راز د حق پر لار کې ثبات په برخه کې حزب التحریر له اسلامي امت، په ځانګړي ډول متنفذینو غواړي د دغه ناوړه برید – چې غرب يې رهبري او د مسلمانانو حکام يې پلی کوي- پر وړاندې ودرېږي.

د غرب لپاره په دې اړه د شیطان وسوسې چې په اسلامي امت کې به «د بل پسرلي» د راتګ مخه ونیسي؛ له خپل دین سره د امت د زیاتېدونکې مینې او درناوي په لیدو له منځه ځي. دوی ویني چې دغه امت په ډېره لېوالتیا او شوق هڅه کوي چې خپل ژوند د راشده خلافت تر سیوري لاندې د اصحاب کرامو له ژوند سره یو شان کړي. اسلامي امت د دې شاهد دی چې څنګه غربي ټولنې له اسلام او مسلمانانو سره په ښکاره دښمنۍ کې ذوب او ناکامې شوې؛ امت ویني چې کافر او استعمارګر غرب د مسلمانانو شتمنۍ لوټوي او په ټوله نړۍ کې د اسلامي هېوادونو اقتصاد ویجاړوي. غرب اوس د یوه لیوني پشان پر مخ ځي؛ ان د ښځې او نر تر منځ توپیر هم نه شي کولی!

اسلامي امت اوس پر دې هم ښه پوهېږي چې د دوی د ظالمو حکامو اصلي او اساسي ملاتړی کافر او استعمارګر غرب دی. دغه امت د ژوند په اړه د غرب فکري او ایډیولوژیکي چټلۍ درک کړې او د درېیمې لارې په لټه کې دي؛ دغه درېیمه لار یوازې د نبوت پر منهج راشده خلافت دی. که څه هم امت درېیمه لار په دغه نامه نه یادوي؛

خو د ستونزو او ترخو تجربو پر وخت د امت پاملرنه او تګلاره ښيي چې يوازې او يوازې د همدغې حللارې په لټه کې دي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿والله متمّ نوره و لو كره الكافرون﴾**

**ژباړه:** *«الله د خپل نور بشپړوونکی دی؛ که څه هم د کافرانو دا هر څومره بد ايسي.»* [صف: ۸]

ښکاره ده چې اسلامي امت اسلام خلافت د حکمتولۍ د نظام په توګه غوره کړی او دغه واقعيت اوس د مسلمانانو ترمنځ په عام باور بدل شوی. نو د اسلامي دولت د نور خورېدو زمينه ښه برابره شوې او يوازې دا پاتې دي چې د امت له منځه د واک او ځواک خلک سر را پورته کړي او د خلافت مفکورې ته نصرت ورکړي! بدلون د واکمنو په پرېکړه پورې تړلی دی؛ ځکه همدوی کولی شي چې حاکميت د غلامانو او مزدورانو له لاسونو واخلي او امت ته يې ورکړي او دا له شک پرته يوازې هغه وخت شونې ده چې په خپلو نفسونو کې بدلون راولو؛ زموږ په خپلو نفسونو کې بدلون د الله سبحانه و تعالی له لوري د بدلون راتلو لار هواروي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿إنّ الله لا يغيّر ما بقومٍ حتّى يغيّروا ما بأنفسهم﴾**

**ژباړه:** *«حقيقت دا دی چې الله د هېڅ قوم حالت تر هغه پورې نه بدلوي، ترڅو هغوی خپل اوصاف(څه يې چې په زړونو کې دي) نه وي بدل کړي.»* [رعد: ۱۱]

**نو ای د واک او قدرت خاوندانو!** د مسلمانانو په اړه له الله ووېرېږئ او تقوا وکړئ! دا کار وړاندې له دې وکړئ چې د ژوند پاڼې مو وتړل شي او دنيا په داسې حال کې پرېږدئ چې الله، د هغه رسول او مومنانو ته مو نصرت نه وي ورکړی!

له الله سبحانه و تعالی غواړو چې د دغه نېکمرغه اختر خوښۍ د نصرت او تمکين زېری کړي! موږ په حزب التحرير کې له تاسو سره ژمنه کوو چې همداسې به د نبوت پر منهج ټينګ ولاړ وو او د خلافت د تاسيس لپاره په نه ستړي کېدونکو هڅو کې به ثابت قدمه پاتې کېږو! له الله سبحانه و تعالی غواړو چې موږ او تاسو ته د نصرت او تمکين تر را رسېدو پورې د هڅې او ثبات توفيق راکړي! الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿إنّ الله بالغ أمره قد جعل الله لكلّ شيءٍ قدراً﴾**

**ژباړه:** «بې شکه چې الله د خپل کار پوره کوونکی دی. یقیناً الله د هر څه لپاره یوه اندازه ټاکلې» [طلاق: ۳]

اختر مو مبارک شه و السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

**انجنیر صلاح‌الدین عضاضه**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر رییس**

**۱۴۴۴هـ.ق، د ذولحجې ۱۰مه**

**۲۰۲۳م کال د جون ۲۸مه**

**د صدور ګڼه: ۰۴۲/۱۴۴۴**